په جماعت سره ستاسو د يو کس لمونځ په يوازې لمونځ کوونکي پنځه ويشت برخې زيات فضيلت لري، او د سهار په لمانځه کې د شپې او د ورځې ملايکې راټولېږي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې فرمايل يې: «په جماعت سره ستاسو د يو کس لمونځ په يوازې لمونځ کوونکي پنځه ويشت برخې زيات فضيلت لري، او د سهار په لمانځه کې د شپې او د ورځې ملايکې راټولېږي» بيا به ابو هريره ويل: که وغواړئ دا تلاوت کړئ: {إِنَّ قُرْآنَ الفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا} [الإسراء: 78] يعنې: (ښکه د سهار قرائت ته شاهدي ورکول کېږي (ملايکې حاضرېږي.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريح کړه چې د يو سړي اجر او ثواب د امام سره په جماعت لمانځه کې د پنځه خپل کور يا بازار کې يوازې کوي، بيا يې يادونه وکړه چې د شپې‌ويشتو هغو لمونځونو څخه غوره دی چې هغه يې په او ورځې ملائکې د سهار په لمانځه کې سره يوځای کېږي، بيا ابو هريره رضى الله عنه د دې خبرې لپاره د دليل په توګه وويل: که خوښ ګڼئ نو (د الله تعالى دا قول ولولئ): [يقينا لمونځ دسبا ته حاضرېدلى شي (ملايکې)] [الإسراء سورت: 78 آيت]، يعنې د سهار لمانځه ته د شپې او ورځې ملائکې دواړه حاضرېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11286